مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۱۲/۰۲

# د علامه اقبال څلوريځي

## دوهمه برخه

| | |
|---|---|
| مرنج ای برهمن از واعظ شهر<br>گر از ما سجده ای پیش بتان خواست<br>خدای ما که خود صورتگري کرد<br>بتی را سجده ای از قدسیان خواست | اې د ښار واعظه واوره ګیله مه کړه له برهمنه<br>چي سجدې يې د بتانو کړې طلب زموږ له وطنه<br>زموږ خالق چي يې پخپله د ادم صورت ايجاد کړ<br>بيا يې څنګه فرشتو ته د سجدې ورکړه بلنه |
| **** | **** |
| ز انجم تا به انجم صد جهان بود<br>خرد هر جا که پر زد آسمان بود<br>ولیکن چون به خود نگریستم من<br>جهان بیکران در من نهان بود | ما د ستورو په جهان کي سل جهانه دي ليدلي<br>وزرونه مي د عقل، تر اسمانه رسېدلي<br>چي مي سر ټيټ کړ ګرېوان ته چي مي وکتله ځانته<br>زما په ځان کي کاينات وه په رګو کي ځغلېدلي |
| **** | **** |
| تو ای کودک منش خود را ادب کن<br>مسلمان زاده ای ترک نسب کن<br>به رنگ احمر و خون و رگ و پوست<br>عرب نازد اگر، ترک عرب کن | اې په خوی خصلت کمکيه ادب زده کړه له لويانو<br>ته په اصل مسلمان يې نسب کار د ناپوهانو<br>که عرب چېرته نازيږي په سره رنګ، په پوست، په وينو<br>چي رهي پر لاري نه سې د داهسي عربانو |
| **** | **** |
| چه پرسي از کجایم چیستم من<br>به خود پیچیده ام تا زیستم من<br>درین دریا چو موج بیقرارم<br>اگر بر خو نه پیچم نیستم من | له ما څه پوښتي چي څه يم له کوم ځايه يم راغلی<br>چي هستی ته يم راغلی پر خپل ځان يم را پيچلی<br>د هستۍ په سمندر کي سرګردان لکه ګرداب يم<br>چي پر ځان نه يم تاو سوی ګويا نه يم هستېدلی. |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ